پوندې په اور سره هلاکې دي، اودس بشپړ کړئ

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي: مور د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره له مکې مکرمې بیرته مدینې ته د راستنېدو په حال کې وو، تر دې چې یو ځای کې اوبو ته راورسیدو، نو زمور ملګرو د مازدیګر پر مهال بیړه وکړه، اودسونه یې وکړل، نو کله چې ورورسېدو پوندې یې معلومیدې چې وچې دي او لمدې شوي ندي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «پوندې په اور سره هلاکې دي، اودس بشپړ کړئ».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو سره له مکې څخه مدینې ته په سفر روان و چې ځینې صحابه کرامو اوبه ولیدې، نو د مازدیګر د لمانځه د ادا کولو لپاره یې په اوداسه کې بیړه وکړه، تر دې چې د پوندو وچوالی یې له ورایه ښکاریده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغو خلکو ته په اور کې عذاب او هلاکت دی چې د اودس پر مهال د پوندو په وینځلو کې نیمګړتیا کوي، او بیا یې ورته امر وکړ چې د اودس په بشپړولو کې باید مبالغه وکړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66392